# ناټو« » NATO
# او
# دناټو« » NATO پيژندنه !



**دانټرنيټ دفارسی سرچينوڅخه**
**ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل**

## دريمه برخه :

## دشمالی اتلانتيک سازمان دنظامی تړون امنيتي او
## دفاعي منشور!

**ناټــو« » NATO دراغونډيدوځای برابره وي چې په هغه کښې دامريکا متحده اياﻻتونـه ،کانـاډا اواروپـايي هيوادونه کوﻻی سي دګډی انديښنی وړ مسائلوپه هکله يودبله سره مشوره وکړی اودهغودليری کولودپاره عملی اوامنيتی ګاومونه اوچت اوپريکړنده کړني ترسره کړي .**
**ناټودتيري يا دتيري دګواښ په وړاندی دخپلوغړيوهيوادونوڅخه دفاع اودي اصل تـه ژمن دی چې پريوه يا څوغړيوهيوادونوباندی بريددټلواله پرټولوغړيوباندی بريد ګڼل کيږي .**
**دمختلفوهيوادونوسـره اړيکـې سـاتل ددی نظـامی تـړون ددندوپـه لمړيو کرښـوکي قرارلـری او هرکلـه چې ارزښتناک اوکاريدونکی موضوعاتو دمختلفوهيوادونو دملی امنيت په برخه کې رامنځتـه کيږی ناټوهغه څيری اواړينی پريکړی رامنځته کوی.**
**دشمالی اتلانتيک سازمان دنظامی تړون ،ناټــو« » NATO پراختيا دکارپوهانودلړليد اودڅيړنولـه مخی نـه يوازی ديو شمير هيوادونودامنيت ،دټينګتيا دپاره به نه وي بلکی دسترونااامنيواودګوډيوسرچينه به هم وي . دغه موضوع هغه وخت ډير ارزښت پيدا کوی چې ترڅارنی اونظرلانـدی يې ونيـول سی چې ددی نظامی سازمان پرمختګ اوپراختياپه يو ډول نه په يو ډول سره مخ پروړاندی ځي چې په ډير نږدی راتلونکی کې پـه سيمه کښې ددی نظـامی سـازمان دشتوالی عينـی شـاهدان بـه اووسو. د ناټــو« » NATO پراختيا ،شتون اوددی سازمان ورځ تورڅه ډيريدونکی نفوذ په منځنی اسيا ،قفقازاودنړی په نوروسيموکښې دهغه جملی نه په افغانستان ،عراق اوپه راتلونکی کې په ايران کې ګڼلی سو.**
**ددی سازمان نوي اړيکی د(۲۳)درويشتوملګروهيوادونواودګرجستان ،اوکراين ،روسيې اوپـه مديترانـه کې دخپلو ملګروسره په لويه کچـه دمنځنـي ختيځ سيمې اونورونړيوالوسازمانونوسره خپلې مرستي ژوره وي اوپراخه وي،که څه هم په دا وروستيوکښې دقفقاز دسيمی پرکړکيچ باندی دګرجستان سره داستيا او اوستيا پرسـيمی اودګرجـستان سـره دپنځـه ورځنـی جګـړی پرسـرباندی دروسـيی اونـاټوترمنځ پرابلومونـه**

اوتاوتریخوالی رامنځته سویدی .سربیره پردی هم ناټودیوشمیر هیوادونوسره دخپل سیاسی پالیسی لـه مخی خصوصآداروپایي اتحادي سره واستراتژیک ملګرتیا ته وده ورکوي .
دناټواستراتژیک ملګرتیادناټوجوړښتونه اومیکانیزمونـه دملګروهیوادونوسره دمرستی چوکاټ برابره وي .اودادټلوالی دورځنیو فعالیتونویوه نه بیلیدونکې برخه ده .
همدارنګه دشمالی اتلانتیک تړون اوددی سازمان نورمهم اوارزښتمنداسنادچې د(۲۶) شپږویشتو هیوادونو لخوا څخـه منـل سـویدی چې دغړوهیوادونودندی،مـسؤولیتونه او دهغوی تګلاره اولومړیتوبونـه ټـاکی . وشمالی اتلاتنیک سازمان (ناټو) ته پیوستون اودغړیتوب ترلاسـه کول چې دغه پیوستون دشمالی امریکا اوداروپایی شپږویشتوهیوادونویوه ټلوالـه نـومیږی اودشمالی اتلانتیـک دتړون پـه نـوم پـه (۱۸۴۸) میلادی کال کې داپریل پر(۴) څلرمه نیټه باندی دغړوهیوادونولخوا ددی تړون اړونـد اسنادامضا او لاسلیک سوی ،اووددی تړن دپالیسی لـه مخی دخپلوموخووترسره کولوتـه ژمن دی .اوپـه همدی ډول سره پـه دی نظامی تړون کښې دسیمی دیوشمیر هیوادونوغوښتنی دګډون اوغړیتوب پـه هکلـه خصوصآ دایران ددولت ګاونډی هیوادونه ددی نظامی سازمان دغړیتوب په اړه چې ددی نظامی سازمان نوې طرحه او وړاندیز په ډېر زیار اوهاندسره ددوواړخیزو اودڅواړخیزواړیکوپربنـست دفارس دخلیج دهیوادونـو سره ترکاراوڅیړنی لانـدی نیول سوی دی دغه کړنه په ښکاره اوروښانه توګه سره دناټــو« « NATO دنفوذدډیریدواودپراختیا بهیر پـه سیمه کښې پـه ګړنـدیتوب سره پرمخ روانـه ده . پـه دی څیړنـی کښې ډېر پـه ښـه توګـه څرګنـدیږی چې دشمالی اتلانتیک سازمان نظامی تړون دڅواړخیزوتړونونـودجملی څخـه هغه نظامی تړون دی چې ډېری نوری ستری موخې تر امنیتی اودفاعی موخو وهاخوا ته دځانه سره لري .
نوکولای سو چېترڅیړنـی مخکې ددی منـشورپه ښـه پوهیدلوسره چې یوشـمیر دسیاسـی علومواوسیاسـی چاروکارپوهانو اکثره وخت د ناټــو« « NATO نظامی تړون یې دبشری تـاریخ (پیښلیک) پـه اوږدوکې یوبریالی«نظامی یوالی» یې بولی ،دغه مسله ویوی څیړنـی تـه اړتیـا لـری چې ددفاعی تړونونو اودامنیتی موافقه لیکونو څخه تعریف اوددی تړونونودبهیر درامنځته کیدو دلیل توضیخ اوتشریخ کوی ترڅووکولای سو چې ددی موضوع څیړنه په ښه توګه سره څرګندسی چې دناټــو« « NATO نظامی سـازمان دنړیـوال نظام دتړونونوپه کومه سطحه کې رامنځته سویدی اوڅرنګه شتون لري .
د ناټو غړي هیوادونو د خپلې بنسټ لیک (اساسنامې)پر بنسټ ځانتـه نـور مشخصی موخی او تعهدونـه هم منلي دي . د هغوي له جملې نه د غړو ملتونو له خپلواکۍ څخه ساتنه، د بشري ګډ تمدن او میراث ساتنه، پـه شمالي اټلانټیک کې ثبات او هوساینې ته پاملرنه او نور داهسې ارزښمندمسائل چې د دې موخوپـه سر کې راغلی اوځای لری .
د دې تر څنګ د ناټو غړیو هیوادونه کوښښ اوزیارهم باسی ترڅوچې د اقتصادي او ټولنیزو اړیکواو مزو پـه ټینګولوسره خپل منځي لانجې او اختلافونه په سوله ایزه توګـه سره حل کړي .د سړې جګړې پـه وخت کې د ناټو د غړیو هیوادونو تر منځ د نظراولړلید د اختلافاتو په شته والي سره،سره دغه سازمان د شوروي د ګواښونو په وړاندی د لوېدیزو هیوادونـو د امنیت ساتلو پـه خاطر دیو ډېر غښتلی او ارزښتناک نظامی ارګان په توګه پاتې شوی وو. /
(نوربیا،په څلرمه برخه کې ادامه لري)
اخیځلیک :
ـدایسنا نیوز څخه